مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۳۱

ومانې شعرونه

کوڅې تشې
کړکۍ پورې
باران یوازې و
ورووتم

(ومان نیازی)

ومان نیازي د آزادو شعرونو نوی ستایل پیل کړ. په لومړي سر کې ځینو کسانو دا هایکوګاني وبللي. ښایي وجه به یې دا وه چې د هایکو په شان لنډ و او د طبیعت ذکر په کې ډېر و چې دا د طبیعت یادونه د جاپاني هایکوګانو اصلي ځانګړنه ده. خو زما په نظر د ومان شعر هایکو نه ده. ځکه چې هایکو ځان ته خاص وزن لري او درې کرښې وي، حال دا چې د ومان شعرونه نه هغه وزن لري او نه په درېو کرښو پورې محدود پاتې وي. د ومان په دې شعرونو کې طبیعت ځکه وینو چې ومان طبیعي شاعر او له طبیعت سره جوړ شاعر دی.
څه موده کېږي چې په فیسبوک کې د شعرونه یوه پاڼه راوتلې ده او نوم یې دی: «لنډکي شعرونه». په دې پاڼه کې د ومان د سبک شعرونه خپرېږي. دلته به یې څو نمونې راواخلو:

سترګې دي، دې خواته راواړوه لږ
لاره تیاره ده،
چې تیندک ونه خورم،
ونه لویږم!!!
(علم ګل سحر)

که باران هم داسي واى
لکه ستا یاد
چې تل مې په زړه اوري
زمکه به پخوا غرقه وه
خو زما د زړه للمه لا هم تږي ده
زړه مې لاهم لکه صدف
ستا دیاد څاڅکي ته
په خلاصه خوله شپې شمېري
(غضري)

رونې سترګې پرانیزه
سترګې مې ورته تږي دي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غواړي هغه وځښي
(شفيقه خپلواک)

زه دي لکه پل
چې ته ځي
زه درنه پاتې شم
خو ته مې لکه سيوری
په هر ځای کې راسره يې
(همت اندړ)

د ژوند مويک مې
ستا په لاس کې
خړ اسمان يې رڼا کړه
ګلونو کې رنګونه ونځوه
او هرې خوا
خوښي وشينده
(زرمينه روهي)

غاړې ته يې
مه وړه
پرې کباب به شي
امپل
د اسوېلو مې
ستا نازونو ته پېيلي دی
(ډاکټر بازمحمد ښادمن)

زه به څنګه
د لمر له وړانګو
هغه واورينه مينه
وساتمه
(نقيب الرحمن لکنوال)

د پېپسي خالي قطی په ځمکه کښ وهل
ځوان غږ کړ، ګول!
د سپين ږيرې بابا خوله واوښته
دوه روپۍ ګيزو ترنګ وهل
ملنګ په سينه وښوید
راټولې يې کړې
خو زړه يې ښېرې ونه کړې
(اجمل تورمان)

انتظار
غوږونه را نه يوړل
اوس
په نظر څارم
ښکالو دي
(اجمل اټک يوسفزی)

ته په آرام مظهر د ژوند

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دفاني رنګ په اوبو
د توروخاورو ارواح ونازوه
(ر.پ)

دزړه ولي مي کمزوري شوي
دغم پټتی دي لږ سپک کړه
زه پې د وړلو توان نه لرم
(مريم مکی)

د تربتي
او تبجني خوني
په حواسو کې
سړه وږمه
څري
پر خوبولی ذهن يې
اشنا عطر
لاس تيروي
(ومان)

د ګلونو
معطره ساه مي
د زړه په جام کې
ستا زړګي ته ډالۍ کړه
ګوندي
د ژوند موسيقي وغږوي
(بېديا)

د وني د شنې پاڼې
له رګونو ساه وخته
ځمکې ته راړنګه شوه
پرېوته
يوه ژوندي موجود يې
سيوري ته
پناه واخيسته
(بېديا)

د اوبو سيوري ته
له ځانه
پناه وروړم
(اناهيتا روهي)

د اسويلیو د شپېلۍ
نغمه مي
ستا د خندا
په غېږ کې
ساه ورکړه
(اشنا کمال)

د الوتي خوب په شان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نا کراره یم
ما دي سترګو ته دروغواړه
ارامه به شم
(مرسل احمدزی)

د ومان د سبک شعرونه ډېر زر عام شول. نه یوازې دا چې پخوانو شاعرانو چې د شعر نور ډولونه یې لیکل، دې لارې ته رامات شول، بلکې نوي شاعران هم په کې پیدا شول. په پورته مثالونو کې وګورئ چې څومره نوي نومونه دي. دا شعرونه ځینې کمالونه لري چې د خوږې چینې په شان یې خلک په ځان باندې راټول کړي دي. یو کمال یې دا دی چې له هر ډول قید و بنده آزاد دي، قافیه، ردیف، او وزن نه غواړي خو ریتم یا آهنګ لري. دا ځانګړنه په آزاد شعر کې له پخوا موجوده وه خو د دې شعرونو لنډوالی دا له نورو آزاد شعرونو او نظمونو بېلوي. لنډوالی د دې شعرونو بل کمال دی. په اوسنۍ بوخته زمانه کې اوږده شعرونه هغه هم په انټرنټ کې ډېر لوستونکي نه لري.
ومانې شعرونه ځینې ګډې ځانګړنې لري چې له نورو شعرونو یې تر یو حده بېلوي: یو؛ په اکثرو کې یې طبیعت وینو (د ونې د شنې پاڼې/ له رګونو ساه وخته/ ځمکې ته راړنګه شوه). دوه؛ د شعر ځینې غربي وزمه تخنیکونه او صنعتونه لکه پرسونیفیکېشن یا تشخص (غیر ذیروح شیانو یا ونو بوټو ته انساني ځانګړنې ورکول) په دې شعرونو کې ډېر دي: (د اسویلیو د شپېلۍ/ نغمه مې/ ستا د خندا/ په غېږ کې/ ساه ورکړه). دریم؛ تشبیه، استعاره او سمبول د دې شعرونو لازمي برخې دي او همدا وجه ده چې دا شعرونه یې له شعاري کېدو ساتلې دي: (د الوتې خوب په شان/ نا کراره یم/ ما دي سترګو ته دروغواړه/ ارامه به شم). څلورم؛ د نویو ترکیبونو جوړولو ته زیات تمایل په کې وینو: (د اوبو سیوری، معطره ساه، تربتې او تبجنې خونې، د زړه ولې، د زړه لاسونه، کنګل کنګل خبرې ...) پنځم؛ اکثره دا ډول شعرونه د غربي شعرونو په شان یوه کیسه یا پلاټ لري او که وژبارل شي، غربي مخاطبان به هم قانع کړای شي.
خلک دې ډول شعرونو ته لنډکي شعرونه وایي خو لنډوالی د دې شعرونو یوازینی مشترک اړخ نه دی بلکې څو نور مشترک وجوهات هم سره لري نو دا نوم ورته مناسب نه ښکاري. د دې شعرونو دغو ګډو ځانګړنو ته په پام سره ادعا کولای شو چې
دا د شعر نوی ستاېل دی چې سرلاری او پېلوونکی یې ګران ومان نیازی دی. نو څنګه به وي چې دا شعرونه «ومانې شعرونه» وبولو؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ